د هغه چا پوزه دې په خاورو ککړه شي چې پر وړاندې يې زما يادونه وشي او پر ما درود و نه ووايي، د هغه چا پوزه دې په خاورو ککړه شي چې رمضان پرې راشي او مخکې له دې ترې ووځي چې بخښنه ورته نه وي شوي، او د هغه چا پوزه دې په خاورو ککړه شي چې مور او پلار يې زړښت ته ورسېږي او د هغوی د (خدمت په پايله) کې جنت ته داخل نه شي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «د هغه چا پوزه دې په خاورو ککړه شي چې پر وړاندې يې زما يادونه وشي او پر ما درود و نه ووايي، د هغه چا پوزه دې په خاورو ککړه شي چې رمضان پرې راشي او مخکې له دې ترې ووځي چې بخښنه ورته نه وي شوي، او د هغه چا پوزه دې په خاورو ککړه شي چې مور او پلار يې زړښت ته ورسېږي او د هغوی د (خدمت په پايله) کې جنت ته داخل نه شي».

[صحيح دی] [الترمذي او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم درې ډوله خلکو ته ښېراوې وکړې چې پوزه دې يې په خاورو ککړه شي يعنې په ذلت، سپکوالي او تاوان کولو سره: لومړی ډول: هغه څوک چې پر وړاندې يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم يادونه وشي خو هغه پرې درود و نه وايي، يعنې: «صلى الله عليه وسلم» يا ورته نورو الفاظو سره. په چا چې د روژې مياشت راشي او مخکې لدې چې بخښنه ورته وشي مياشت ترې لاړه شي، يعنې په عبادت کې د نېمګړتياوو له امله. درېيم: هغه سړی چې مور او پلار يې د زړښت پر مهال ژوندي وو، خو د ده د نافرمانۍ او په حق کې يې د کوتاهۍ له امله هغوی دواړه دده لپاره جنت ته د داخلېدو سبب ونه ګرځېدل.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6014